د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ... (خطاطي)

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (١١١٠) سال هژدهم شماره (٧) یکشنبه (١١) حمل ١٣٧٥ هـ ش (١٢) ذي القعده ١٤١٦ هـ ق (٣١) مارج ١٩٩٦ م

دحزب امیر دلغمان ولایت دمرکز په جامع جومات کی لمونځ کوونکو ته وویل :

باید له صبر او استقامت نه کار واخلی او دیوه اسلامی نظام تر ټینګښته خپلی مبارزی ته دوام ورکړی

مهترلام - دوري ١١ مه : دلغمان دولایت هسترګنو خلکو دتیری جمعی لمونځ دورور حکمتیار په امامت اداکړ.

دلغمان ولایت څخه دحزب اسلامي دسکرتریت بری منبع شهادت ته وویل : لکه چي دحزب اسلامي افغانستان امیر ورور حکمتیار دجمعي دلمانځه دادا کولو لپاره دتوموړي ولایت دمرکز جامع جومات ته تشریف یووړلو نو شمیر خلك دهغه داستقبال لپاره ولاړو .

منبع وویل : دلغمان پرښارپانونه پرسیره دتوموړي ولایت قوماندانانو. (٤)مخ

پاکستان افزایش تماسها با کابل را بررسی می کند

سیاستګذاران پاکستانی توسعه روابط میان کابل - اسلام اباد راسفارش می کنند

اختلافات میان پاکستان وایران هنوز باقیست

یکی ازشرایط اسلام آباد برای بهبود روابط با کابل برآورده شده است

اسلام آباد - ١١ حمل : مسئله توسعه تماس هاي موجود باپریزدنت برهان الدین رباني وهمچنان عنوان نکردن پیش شرط هاي ازجانب پاکستان براي مذاکرات بعد بااداره کابل درجلسه بعدي افغان سل مطرح میشود .

به گزارش روزنامه نیوز ،قبلاً اسلام آباد براي هرگونه تماس رسمي بااداره کابل شرط هاي وضع نموده بودیکي اینکه ابتدا حکومت استادرباني نسبت به حوادث سفارتخانه پاکستان درکابل ولت وکوب دیپلومات هاي پاکستاني درآنجا، ص(٤)

ماچاره یی جز جنگ نداریم

نیازي

قندهار - ١٠ حمل : ماچاره اي بجز اقدام نظامي درمقابل اداره کابل نداریم وراه حلي دیگري هم وجودندارد .

عبدالمنان «نیازي » نطاق طالبان درپاسخ به حملات راکتي برشهرکابل واینکه عامل اصلي این حملات کیست ؟ گفت : درگمربنداطراف کابل مستقیماً جنگ آغازنشده وماهنوز به عکس العمل جدي دست نزده ایم ، ماچاره اي بجزجنگ ص(٤)

الهی لارښوونی

حقیقت دادي چي الله پرخلکو باندي ظلم نـه کوي، خلك په خپله په ځان ظلـم کوي . (تن په دې دنیوي ژوندګي مست دي) اوپه کوم ورځ چي الله دوي راپاڅوي نو(همدغه ددنیا ژوند به دوي ته داسي ښکاره شي چي) ته به وایي ددي صرف پوره یوساعت په خپلو منځوکي دپیژندګلوي دپاره څنډیدلي وو.

په واقع کي هغـه کسان سخت نه زیان سره مخامخ شول چي له الله سره یوځاي کیدل یي دروغ وګڼل اوهیڅکله هغوي پرسمه لاره نه وو .

(یونس -٤٤ - ٤٥)

ادامه جنگ بر تعداد معیوبین می افزاید

معیوبین ومعلولین مستحق کمك هرمنبع کمك دهنده اند

پشاور - ١٠ حمل : درسیمینار دو روزه موسسات وادارات خارجي برفراهم نمودن تسهیلات بیشتر براي معیوبین ومعلولین جنگ (١٧) ساله افغانستان تاکید شد .

ورکشاپ دو روزه اداره هم آهنگي امداد براي افغان ها به اشتراك موسسات ص(٤)

مداخله بیگانگان مانع استقرار صلح درافغانستان است

داکترعبدالرحمن

واشنگتن - ١٠ حمل : مانع اصلي استقرارصلح وثبات درافغانستان مداخله بیگانگان بوده که نمي گذارند افغان هاخود شان مشکل خودرا حل نمایند .

این مطلب راداکتر عبدالرحمن وزیر هوانوردي اداره کابل کـه دررأس یك هیئت به امریکا سفرنموده اظهار داشته است. ص(٤)

تشنج درافغانستان به نفع هیچ کشور منطقه نیست

واشنگتن - ١٠ حمل : عمده ترین اشتباهي که پس ازخروج نیروهاي اتحاد شوروي سابق درافغانستان صورت گرفت عدم تشکیل حکومت فراگیر ووسیع البنیاد درافغانستان بوده است.

روزنامـه نیویارك تایز مضموني راتحت عنوان « رنج والم مردم افغانستان بحد نهایي خود رسیده است » به نشررسانیده وازمصاحبه داکتر مونس احمراستاد روابط بین المللي درپوهنتون کراچي پاکستان درارتباط به حل بحران ص(٤)

هندی پوځ دمحصورو کشمیری مجاهدینو په ګډون (٢١) تنه ووژل

دحزب اسلامی ویاند دهندی پوځ دغه عمل په کلکه وغندلو

په وژل شوو افرادو کی دکشمیری مبارزینو یومشر شبیر صدیقی هم شامل دی

په اسلام اباد کی دهندی سفارت په وړاندی خلکو احتجاجی مظاهره وکړه

سرینګر - دحمل ١١ مه : دهند پرځلګروځواکونو پرون په یولړ وحشیانه عملیاتو کي دټول شوي کشمیرمرکزسرینګرته نژدې، دحضرت بل جومات ترڅنګ یوې وداني ته اور ورته کړ اودکشمیري مجاهدینوپه ګډون یې ٢١ تنه په شهادت رسولي دي .

دکشمیر نړیوال آژانس (K.P.I) رپوټ ورکوی په دغه شهیدانو کي دکشمیرد آزادي جبهي دګوند نامتو مشر شبیر صدیقي یودولس کلن هلك اوددري ښځي هم شاملي دي .

دغه منبع رپوټ ورکوي یوه اوني وړاندي دکشمیر دآزادي جبهي مربوط ځوکشمیري مجاهدینو د حضرت بل جومات ته پناه وړې وه چي وروسته له (٤)مخ

ورور حکمتیار دقوماندانانو له یوه هیئت سره وکتل

مهترلام - دوري ١١ مه : پوشمیر جهادي قوماندانانو دحزب اسلامي افغانستان له امیر ورور حکمتیار سره وکتل

دلغمان ولایت څخه دحزب اسلامي سکرتریت شهادت ته وویل په دغه کتنه کي چي دجمعي دورځي په ماسپښین کي ترسره شوه قوماندان زرداد وفریادي، (٤)مخ

مولوی محمدیونس خالص له امریکا غږ رادیو سره په مرکه کی :

مادکابل هیئتونو ته وویل قدرت داسی چاته وسپاری چی سل په سلو کی یا اتیا په سلو کی دښځو او جنګونو مخه ونیسی

ننګرهار - دوري ١١ مه : داسلامي حزب مشر مولوي محمدیونس خالص لـه امریکاغږ راډیوسره دیوې مرکي په ترڅ کي ویلي چي ده تراوسه په جلال آباد کي دریاني داستازوسره څوځلي کتلي دي .

هغه وویل چي ددي لیدنوکتنو په جریان کي هغوي ښېل، ښېل نظرونه څرګند، کړي هغوي درباني لخوا ماته داپیغام هم راوړي ؤ چي دي ته چمتودي چي قدرت ماته انتقال کړي ترڅوبه هیواد کي سوله راشي .

مولوي خالص وویل چي مایه ځواب (٤)مخ

انقلابیون مسلمان لبنانی بر عساکر رژیم صهیونستی حمله نمودند

بیروت - ١١ حمل : انقلابیون مسلمان لبناني روزگذشته به نیروهاي رژیم صهیونستي و مزدوران آنان درجنوب لبنان حمله نمودند .

براساس گزارش خبرگزاري ایران انقلابیون حزب الله لبنان اعلان داشتند که نیروهاي آنان باکارگذاشتن یك بمب قوي درمسیر یك گـزمـه' نیروهاي رژیم ص(٤)

به نوشته هرالد تریبیون :

درسیاست پاکستان درقبال طالبان تغییر احساس می شود

پاکستان نګران قدرت گرفتن حکومت تحت حمایت هند وروسیه درافغانستان می باشد

چنانچه به نظرمیرسد، پاکستان دربرابرنیروهاي طالبان که بیش ازنیمي خاك افغانستان را تحت کنترول خـود دارند، سیاست خودرا تغییرداده وبه سوي سیاستي متمایل شده که هدف آن پایان دادن به جنگ داخلي افغانستان ازطریق مذاکره ومیانجیګري بین تمام گروه هاي درگیراست .

رادیوبي بي سي بـه نقـل از ص(٤)

دبنګله دیش جمهور رئیس، پارلمان او دخالده ضیاء حکومت منحل اعلان کړ

دپخوانی قاضی القضات په مشری موقت حکومت به نوی انتخابات کوی

دتیرو دوو کلونو په موده کی (٢٠٠) تنه وژل شوی دی

ډاکه - دحمل ١١ مه : په بنګلدیش کي تراوسه، کړکیچ اوبحران وروسته ددي هیواد جمهوررئیس عبدالرحمن «بسواس » پارلمان او حکومت رنګ کړي اودیوه موقت حکومت جوړښت یي اعلان کړي دي .

دنړیوالو خبري منابعو درپوټ په اساس موقت حکومت دهمدي کال د مي په میاشت کي ددې زمینه برابروي ترڅوتوپارلماني انتخابات ترسره شي .

رپوټ وایي دبنګلدیش جمهوررئیس عبدالرحمن بسواس ، ددي هیواد پخواني متقاعد قاضي القضات محمد حبیب الرحمن دموقت حکومت د سرپرست په حیث ټاکلي چي هغه به دبې طرفه سلاکاراتو یوه لس کسیزه کمیټه جوړوي ، ترڅو دنوبو انتخاباتو ترسره‌کیدو پوري دهیواد چاري په مخ بوزي .

خبري منابع رپوټ ورکوي د١٩٩٦ میلادي کال څخه راپدیخوا دبنګلدیش په هیوادکي دسیاسي ،کړکیچ اواخ اودوب په ترڅ کي تقریباً ٢٠٠ تنه وژل شوي دي (٤)مخ

اخي انت حرؤوا ، السدود ! رام الله -کرانه ، غربي - پنجشنبه : مامورین امنیتي رژیم اشغالگر صهیونست حدود (٣٦٠) تن از محصلین فلسطیني پوهنتون بزریت را به " اتهام " حمایت از نهضت حماس دستگیر کردند .

اگاهی مهم برای عازمین حج بیت الله

به اطلاع آن عده افغان ها که قصدسفرحج رادارندولي پول مصارف آن رانه پرداخته اند، رسانیده مي شودکه تاروزدوشنبه مورخ ١٣ حمل ١٣٧٥ هـ ش مطابق اول اپریل ١٩٩٦ میلادي به کمیسیون حج شوري عالي هماهنگي مراجع کنند، ازتاریخ فوق الذکربه بعد درخواست هاي حج پذیرفته نه مي شود ،وبراي تحویل پول هیچ نوع عذرپذیرفته نه مي شود، افرادیکه قبلاً پول مصارف این سفرراپرداخته اند طبق هدایت کمیسیون یادشده به مرجع مربوط مراجعه کنند .

آدرس : ایستگاه سپین جومات - سوث کانال رود - عقب ټاون - لب نهر - نزدیك پوهنتون سیدجمال الدین افغان - دفترشوراي عالي هماهنگي - نمبر تیلفون (٨٤٠٥١٣)

دافغانی حجاجو لپاره مهمه خبرتیا

تولوهغوافغانانوته چي حج ته تلل غواړي اوتراوسه یې دمصارفو پیسې ندي سپارلي ،خبروورکول کیږي چي ترراتلونکي دوشنبې د١٣٧٥ هـ ش کال دحمل دمیاشتي دیارلسمي چي د١٩٩٦ میلادي کال داپریل اولي نیټي سره برابره ده ، په پیښور کي دهماهنګي شوري په دفترکي دحج کمیسیون ته مراجعه وکړي . دیورته ذکرشوي نیټي نه وروسته درخواستونه نه اخستل کیږي اوددپیسودجمع کولو دپاره به هیڅ عذرهم نه منل کیږي اوهغو کسانوچي ترمخ یې ددغه سفرد مصارفو پیسې سپارلي ، دتوموړي کمیسیون دهدایت سره سم دي مربوطه مرجع ته مراجعه وکړي

آدرس : دسپین جومات تم ځاي - سوث کانال رود - دټاون شاته دنهرپه غاړه ، دسیدجمال الدین افغان پوهنتون ته څیرمه ،دهماهنګي دعالي شوري دفتر - فون (٨٤٠٥١٣)

بیت الله شریف ته دتلونکو افغانی حجاجو لپاره

زیری

دافغان بیاوډانولو اولوژستیکی خدماتو مؤسسی اراده کړی چی بیت الله شریف ته دتلونکو افغانی حجاجو خدمت وکړی . نو هر هغه افغـان که په هیـواد کی دننه دی او کـه دهجـرت په دیارکی کـولای شی له هغـو ټولو آسانتیاوو څخه په استفادی سره په مناسبه بیه بیت الله شریف ته تشریف یوسی ،چی ددی مؤسسی له خوا برابری شوی دی . اوهیله کووچي د څنډیدو نه د مخنیوی په خاطر ژر تر ژره د ثبت نام لپاره مراجعه وکړي

دیادولو وړبولو چی دسعودی عربستان ویزه په مجانی توګه اجراکیږی . بنا تاسی ته داډ درکول کیږی چی دا مؤسسه به ستاسی ټول اسناد طی مراحل اودسفر چاری په سمه توګه تنظیم کړی . کولای شی د زیاتو معلوماتو لپاره په لاندینی پته ددفتر اداری ته مراجعه وکری

پته : پیښور - یونیورسټی روډ - تهران سټاپ - مراد پلازا لومړی منزل د (ARLO)دفتر

Tel:(843096)

دفاتحی اعلان

مرحوم حاجي اکبرخان مېره، عبدالستار «حاجي» ، ضابط محمدکمال «حاجي» ، دحزب اسلامي دتوحید فرقې قوماندان سیدکمال «حاجي» ، نورمحمد خان «حاجي» اوسیدمحمدخان «حاجي» زامن .

محمدامین «حاجي »، محمد نور «حاجي» ، محمد حکیم «حاجي» ،محمدغني «حاجي » اوتاج الدین «حاجي» دتره زامن . حاجي گل اسلام «حاجي» ، حاجي گل نظیم «حاجي»، رحیم «حاجي» ، حاجي گل محمد خان «حاجي»، نورخان «حاجي»، ملك حبیب جان «حاجي » ،ملااقبال خان «حاجي» اوحاجي نادر «حاجي» دپلار دترهزامن . حاجي لعل بادشاه او داود شاه «حاجي» وروڼه اوخیرمحمد «حاجي »تره ، دقوماندان سیدکمال «حاجي» دموردمړیني له کبله چي جنازه یې پخوا په ځاځیرکي خاورو ته سپارل شوي دوستانوته خبرورکوي چي دتارینه ووفاتحه ددوشنبې په ورځ د١٣٧٥ کال دحمل دمیاشتي په ١٢ نیټه چي داپریل دمیاشتي د٢ نیټي سره سمون خوري، دسهارله ٨ بجو څخه دماسپښین تر١٢ بجو پوري دپیښوربښاردبورد دتاج آباد په محمدي جومات کي اودښځوفاتحه دتاج آباد دمحمدي جومات ترشا ، دوهمه کوڅه ، ددوي په کورکي اخیستل کیږي.

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شهادت

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

سرمحرر : محمد نذیره بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

تلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

دحزب اوکابل اداری دمذاکراتوروحیه

دتیری اونی په پای کی چی دحزب امیر ورورحکمتیار دبی بی سی له دری اوپښتوسرویسونوسره کومی مرکی وکړی ،په هغوکی یومهم ټکی داوچی دحزب اوکابل اداری خبری اتری دهیچا په خلاف نه دی، دادهیچادبی برخی کولو اوکمزوری کولوهڅه نه ده ، په خپل منځ کی دچوکیوادامتیازاتو دتبادلی موضوع نه ده،بلکی دامذاکرات اودهغوپه نتیجه کی رامنځ ته کیدونکی احتمالی موافقه به دټولودقانع کولو اودبحران دکلی اواساسی حل په خوا دتلاش اوزیارپوه کړی وی .

ورور «حکمتیار» خورامهم ټکی روښانه کړ. دملت په اذهانوکی ځینی جوړجاړی اوائتلافونه دترخوخاطروپه توګه ثبت دی، طبعاً اوس ولس دهری سیاسی جوړی په باب چی ټول پکی برخه ونلری دشك په سترګه ګوری لکه چی وائی « مارچیچلی، له پړی داریږی»، زموږملت هم «دیوه داسی قوم په توګه چی ځینوائتلافونوپه جګړو واړاو، نفرتونه ئی ورته راوړل ، ورته دانتشار او افتراق سبب شول اودمصیبتونویوه وحشتناکه لړی ئی ورته شروع کړه دنوموړی متل مصداق دی .

کله چی دحزب اوکابل اداری ترمنځ دخبرواترو دپرمختګ خبراوری ،حق لری چی په ذهن کی ئی له ځینو ناوړو سازشونونه پاتی بدمرغه خاطری ورپه یادشی او پوښتنه وکړی چی آیا بوځل بیا دجګړی لپاره یوه نوی جبهه بندی، آیا بوځل بیا دخونړیو معرکو لپاره نوی میدانونه آیا بوځل بیا بواځی په دومره تفاوت دجګړی لښی چی فقط دځینوتوپونو د خولو اوځینو ټوپکودشپیلیواستقامتونه بدل شی، آیاپوځل بیا دمرګونو اوبربادیو ناتاریه دی توپیرچی براځی دجګړو دتودولو په تراتوکی څه الفاظ اونومونه کم وزیات اویاردوبدل شی ؟

داتولی پوښتنی له ولس سره پیداکیږی ، په همدی وجه ده چی دحزب امیر په مناسب وخت کی خورابنه توضیح ورکړه . امیدی چی دورور « حکمتیار» داخبره به دملت لپاره داطمینان فضا رامنځ ته کړی .

واقعاً زموږملت اوهیوادته نورددی زغم ګران دی چی دتاکتیکی ، مقطـعی اوولوته کیږده پل پری کیږده «دروشونو دناوړه نتیجویاردی پورته کړای شی .

دولس حوصله اوددی هیوادشیمه اودمه نوردخواب ورکولو په حالت کی ده . نوریکی داوږدولتهیبرونو دبرداشت کولو هیڅ انرژی پاتی نه ښکاری .

که وضعه په همدی بڼه ادامه وکړی، نه بواځی دستونزو حل ته ملاونه تړله شی، بلکی په نویوصف بندیواوانرژی اخیستو حالات لاپیچلی اوخونړی کړای شی، نولری نه ده چی خدای مکړه دملت دحوصلی اومقاومت دملادماتیدو خرچارازانګی وکړی اوتاریخ دخپلوله لاسه دیوه مجاهداوفاتح قوم دمرګونی سقوط دژړوونکی فاجعی ننداره وکړی .

دملت توقع همداده، لکه چی ورور « حکمتیار» ویلی دحزب اوکابل اداری یاجمعیت ترمنځ خبری اتری اواحتمالی تفاهم دټولو دقناعت لپاره شی، دجګړی دپای ته رسیدو اوسولی دراتلومقدمه شی، دبحران دکلی اواساسی حل کیلی شی اوبالاخره د«جهاد» د«ارمان » اودملت اوهیواد دژغورنی لپاره دیوه عظیم انقلاب بنسټ شی .

جناب مستیری ،

لطفاً دیگر دنبال نخود سیاه نروید!

حامد

هفته، گذشته اعلام گردید که جناب محمود مستیری نماینده، خاص سرمنشی سازمان ملل متحد بمنظور از سرگیری «مأموریت صلح » خـود عنقریب وارد منطقه خواهد گردید.

طبیعی است کـه کشور و مردم افغانستان کـه از چند سال باینسو در عطش صلح میسوزند، از هر ندا و منادی صلح استقبال و حمایت بعمل میآورند. بهمین دلیل بود که وقتی جناب مستیری که زمانی وزیر اموروخارجه، کشور اسلامی تونس نیز بود، به این عهده منصوب گردید، امید به اعاده، صلح در اذهان مردم ما قوت گرفت. بیاد داریم که به اولین سفر جناب مستیری به منطقه امیدهای زیادی بسته شده بود. اما، متأسفانه که مستیری نیز چیزی غیر از یك سراب نبود.

با مروری بر وقایع حدود چهارسال گذشته، به سهولت میتوان دریافت هر باری که جناب مستیری از «سرگیری» مأموریت صلح خود دم زده و یا اعلام کرده است که به منطقه میآید، بعوض اینکه از شدت و وسعت دامنه، جنگ کاسته شود، تنور جنگ داغتر گردیده و عده ای دیگر از هموطنان ما را در کام خود فروبرده است.

اصلاً مستیری از آغاز کار مرتکب اشتباهات عمده ای گردید که اهمیت این اشتباهات و پیامدهای آن، این اطمینان را پدید میآورد که مستیری و سازمان متبوع ایشان در جهت جبران آنها، به اقدامات مناسب و مقتضی متوسل شوند. اما، با کمال تأسف مشاهده میشد هر باری که به منظور «صلحخواهی» و «وساطت» قدم به میدان میگذارد، نه تنها در جهت جبران مافات کاری نمیکرد، کـه به پیچیدگی معضله نیز میافزود. یکی از اشتباهات عمده، وی از همان اول کار اینست که بعوض اینکه بعنوان یك «وسیط»، «میانجی» یا «ثالث بالخیر» و «حکم صادق» وارد عمل شود، بعنوان یك طرف داد سخن داد.

این موضع در همان آغاز، کارنامه، ویرا با تاپه، ناکامی مهمور ساخت.

جناب مستیری اولین ملاقات را با برادر حکمت یار امیر حزب اسلامی در چهار آسیاب بعمل آورد. قبل ازآن وی وقتاً فوقتاً ادعا، میکرد کـه گروههای متحارب و درگیر افغانی هیچ کدام راه حل مشخصی برای نجات کشور از بحران حاکم ندارند. پس از سفر به چهارآسیاب، وی اعلام داشت که حکمت یار فارمولی برای حل مسئله ارائه داشته است.

اگر جناب مستیری در همان زمان، این فارمول را اندکی مورد غور و خوض قرار

> با مروری بر وقایع حدود چهارسال گذشته، به سهولت میتوان دریافت هر باری که جناب مستیری از «سرگیری» مأموریت صلح خود دم زده و یا اعلام کرده است که به منطقه میآید، بعوض اینکه از شدت و وسعت دامنه، جنگ کاسته شود، تنور جنگ داغتر گردیده و عده ای دیگر از هموطنان ما را در کام خود فروبرده است.

میداد، شاید میتوانست فارمول گره گشایی برای حل معضله بیابد. البته منظور ما این نیست که مستیری باید فارمول برادر حکمت یار را صد فیصد میپذیرفت.

وی هر بار اعلام میداشت علاوه بر اینکه گروههای متحارب طرح مشخصی برای حل معضله ارائه نمیکنند، خودش نیز به نمایندگی از سازمان متبوعش طرحی با خود ندارد. لذا، فارمول ارائه شده از جانب برادر حکمت یار میتوانست اقلاً مبنایی برای آغاز کار مثمر برای حل نهایی مسئله باشد. ولی جناب مستیری در ملاقات با نمایندگان یا سران جناحهای متحارب یا درگیر بهمین بسنده میکرد که از آنان تقاضا بعمل آورد که راضی به آغاز مذاکره گردند.

در رابطه با میزان موفقیت و عدم موفقیت «مأموریت صلح» نماینده، سر منشی سازمان ملل، به یاد آوری یك نکته اکتفا، میشود و آن اینکه این جناب حتی تاحال نتوانسته است که اقلاً، اگر نه همه، دو یا سه رهبر گروههای متحارب را پشت میز مذاکره بنشاند.

برادر حکمت یار در چهار آسیاب به جناب مستیری گفته بود که در شرائط کنونی در جهت حل سریع معضله، خاتمه، دائمی جنگ و تشکیل یك حکومت ثابت فوریترین نیاز بشمار میرود.

برادر حکمت یار پیشنهاد کرده بود که نماینده، خاص سازمان ملل متحد، از سران گروههای متحارب و درگیر بخواهد که هر یك لستی از افراد قابل قبول را جهت تشکیل یك حکومت موقت بوی بسپارد. آنگاه کمیسیونی مشتمل بر افراد فوق الذکر تشکیل گردد تا میکانزم متفق علیهی بمنظور انتقال قدرت، ترتیب کنند. باین ترتیب هیچ یك از جناحهای متحارب یا درگیر خود را «خارج» ازین میکانزم بحساب نیاورده، بلکه همه، جناحها و عناصر خواهان حل صادقانه و مسالمت آمیز معضله، به حمایت و دفاع از آن خواهند پرداخت.

اما، مع الاسف که جناب مستیری در جریان کارش، بعوض ترکیز بر دستیابی به راه حلی قابل قبول برای جناحهای متحارب، وقت خود و پول سازمان متبوع

> اگر باری دیگر جـناب مستیری به منطقه اعزام میگردد، و اگـر براستی و صادقانه آرزومند اعـاده، صلح در افغانستان هست، انتظار معقول از وی اینست که ایشان از پروسه، جاری مذاکرات فی مابین حزب اسلامی به نمایندگی از شورایعالی هماهنگی و سران اداره، کابل حمایت بعمل آورده و این پروسه را تقویت کند.

خود را بر پروژه هایی ضایع گرد که جز بدست آوردن مقداری دالر برای دلالان سیاسی، و برای سازمان ملل متحد شهرت ناشایسته، حاصل دیگری نداشت.

اینك باری دیگر، دست اندرکاران امور سازمان ملل متحد اراده کرده اند که جناب مستیری را باری دیگر و همچون گذشته در مأموریت « صلح » روانه، منطقه سازند.

طوریکه گفته شد، در گذشته هر باری که مستیری وارد منطقه گردیده است، جنگ تشدید گردیده و دامنه، آن وسعت یافته است. اگر نتوان مدعی بود که خود مستیری با مأموریت ادامه، درگیری وارد منطقه یا کشور ما گردیده است، شاید بتوان ادعاء کرد که گروههای متحارب یا بدلیل ابراز مخالفت با مأموریت مستیری و یا جهت کسب تفوق و برتری بیشتر بر جانب مقابل و گفتگو با مستیری از یك موقف قویتر، به شدت جنگ و خونریزی افزوده اند.

قطع نظرازینکه کدام یك از تأویلات فوق درست باشد، برای ملت و کشور ما جز تباهی و ویرانی بیشتر، حاصلی نداشته است.

چه کسی میتواند تضمین کند که بازگشت مجدد مستیری به منطقه، جنگ داخلی را در کشور مـا تشدید نکند؟ مسافرتهای مستیری هرگز نوید بخش صلح نبوده است. هیچ دلیلی وجود ندارد که این بار بتوان یا باید و یاشاید که به مأموریت وی امید بست یا اینکه دل خوش کرد.

این بار جناب مستیری در حالی وارد منطقه میگردد که مذاکرات فی مابین حزب اسلامی به نمایندگی از شورای عالی هماهنگی و سران اداره، کابل در جریان است. شواهد و قرائن حاکی از آنند که تا لحظه، نگارش این سطور، برین مذاکرات نتائجی نیز مرتب گردیده که میتوان بر آن حساب کرد.

در ریشه یابی علت یا علل موفقیت نسبی مذاکرات، عمده ترین دلیل این میتواند باشد که پروسه، مذاکرات بین دو جناح فوق الذکر، تا جاییکه ما مطلعیم، یك پروسه، افغانی بوده و کریدت ابتکار آن بسران دو جناح تعلق میگیرد. یعنی بالعکس تلاشهای « صلحجویانه » و «میانجیگرانه»، قبلی، این پروسه بابتکار عناصر «ثالث» یا «مصلح » نه آغازگردیده ونه تداوم یافته است. تجارب گذشته مشعر بر آنست «میانجیگران» و «مصلحین» ازین زمره، در خاتمه، جنگ نمیتوانند کار مفیدی از پیش برند.

اگر باری دیگر جـناب مستیری به منطقه اعزام میگردد، و اگـر براستی و

صفحه (٤)

جلاوطنه ولایتونه

میوند

په پیښورکي دجهاد په اوږدوکي نږدي ټولو تنظیمونو ورته اداري سیستم درلود هرتنظیم - نظامي - مالي - فرهنګي - تنظیم اودعوت اوداسي نوري کمیټي لرلي هرتنظیم ولایتي دفترونه اونمایندګي لرلي - داکه بنه سیستم ژ اوکه بنه نه ژ خو دغه سیستم ټرټولودمخه حزب اسلامي رامنځ ته کړي ژ وروسته چي هرتنظیم جوړیده بیله دي چي ویوهیږي اوخپل فعالیت او ضرورت وسنجوي دحزب اسلامي پـه تقلید ئي همـاغسي کمیټي اودفترونه جوړول اوهماغه اداري سیستم اوتشکیلات بې ټکي پـه ټکي نقلول اوکاپي کړل.

حزب اسلامي - د خپل نشراتي ارګان لومړي ګڼه لاله کمونستي کودتادمخه خپره کړه اوجمعیت وربسي وروسته دمجاهد اقتدا وکړه - حزب دشفق مجله خپره کړه او جمعیت وروسته میثاق خون راویستله دغسي نـورو ګـوندونو اوګوندیو هم .

دهیواد په داخل کي جبهي اوګروپونه هم داوړ - ښوونځي اومدرسي هم دغه ډول وي کله چي حزب دسیدجمال الدین افغان لیـه تاسیس کـړه ، جمعیت وربسي دمجاهد لیسي جنډه پورته کړه . لنډه داچي پـه هرڅه کي حزب اسلامي مخکي ژ جمعیت وربسي ژ اونورتنظیمونه بریه بل پسي پـه هماغه لیکه اوکرښه روان ژ .

دغه سیستم دجهاد ترپایه وچلیده داچي بنه وچلیده کـه نـه بیله خبره ده داسي وچلیده چي په هراتحاد کي به هم همدغسي سیستم همدغـه کمیټي ، دفترونه، نمایندګي او اداري جـوړیدي اووراتیدي که یودوه څله ندي ورانې شوي نو هلته بیا حرکتونه اواتحادونه زیږیدلي دي اونوري اضافي شویدي .

یودوه څـله چي عبوري حکومتونه اعلان شول هلته ایله دومره وشول چي دغه کمیټي په وزارتونواړول شوي، نظامي کمیټه ، دفاع وزارت ، سیاسي دبهرنیو چـارو وزارت ، فرهنګي د اطلاعاتو اوکلتورپاهم دعوت اوارشاد وزارت شو .

خوعبوري حکومتونه له اتحادونوبه و لرترلره دومره ښه چي یوحکومت هم دکوم ګوندیا حکومت په نوم ندي پاتي شوي، که داسي شوي واي لکه له اتحادونونه چي حزبونه جوړشول تراوس به لږ ترلږه دوه عده حکومتونه هم موجود ژ، ورووستي عبوري حکومت چي پنځوشپږوهیوادونوپه رسمیت هم وپیژانده ښه ژ بیایي هم پیښي کلکي نکړي نه بې په ځان پوري خلك وختندل اونه یې هم لکه داوس داستادرباني صاحب غونډي پلمواوحیلوته لاس اوږدکړ . نه یې دستري محکمي جعلي فتوي رامنځ ته کړه نه دقبادي شورا تمدید اونه هم دحل اوعقد دساختګي شوراپه پریکړه یې منګولي ښخي کړي ، بس چي وخت یې پوره او افادیت یې پاي ته ورسید نو دبیځایه ضدضرورت رفـع شـوي بلل کیده .

حال دویلولایق نه دی

خبره ترسیستم پوري وه چي رانه اوږده شوه ، استادرباني ته دغه سیستم دومره ګټوراواغیزمن پا م ته وروغلي وچي اوس اوس دده داسلامي حکومت غلورم کال په پیلیدو دي هم لادغه سیستم ژوندي اوفعال ساتي ، یوي خواته دحکومت اونظام دعوي اواکثونه کوي اوبلي خواته لاتراوسه دهماغه پیښور په زاړه اومتروك تنظیمي سیستم شخوندوهي .

دي اوس هم فضایي جبهي،غونډونه اوفرقي منظوروي ، پدداسي حال کیې چي غونډمشران اوفرقه مشران بې ټول په کابل کي ناست دي اوهغه سیمي چي دغه جبهي غونډونه اوفرقي پکي منظوري شوي یادطالبانوپه لاس کي دي اویاهم دهم غري دشوراپه وړاک کي .

یویله خبره داچي اوس په کابل کي دټول افغانستان ولایتونه اووالیان لکه دجهاد دوختونو ولایتي نمایندګي ئي په کابل کي فعالي دي .

دمثال په تـوګـه نمایندګي ټمبرلك ولایتي قندهار وقایندګي ولایت زابل . نمایندګي ټمبردو ولایـتي کندهار اوهمداسي نور .

اوس په کندهار دطالبانو د هغه ستر مرکزاوپلازمېنې پـه عنوان داستادرباني دکابل پـه محاصره شوي واکمني کي دقایندګي څـه ضرورت اوجوازولري .

که استاد رباني داوايي چي ددغو سیمرواکمني بې لـه لاسه وتلي نو داخو کولي شي چي په نـوم ولایتي دفترونه اوقایندګي جــوړي کــړي، څوتنه پکي لیلیه کړي اولږترلږه خپل هغه احساس اوتنده پري تسکین کړي چي واکمني ئي دمدعي په توګه لري .

وادده مجبوریت دي چي داسي ونکړي توڅه وکړي .

دافغانستان د پولیـو یوه افسرراته کیـسه کړله چي کله داودخان کودتاوکړه نوجنرال عبدالولي بې بندي کړ. هغه ته دژوند ټول وسایل اوارتیاوي برابري وي، وایې چي ده به کله کله خپله دریشي واغوستله په هنداره کي بـه بې وکتل، تکتابي اوداوږو نښانونه بـه بې سم کړل، هغه خولي چي ده به ویل بواځي داهم پرافغانستان حکومت کولي شي پرسرکړه . دجنرالي موزي به بې پسوکړي اوپه کوټه کي به چټك چټك لکـه یو برحال پوځي جـنرال څـوځـواره ولاړواغي اودجنرالي اکثونه به بې تر سره کړل له ځان سره به بې جدي خبري وکړي اوپدي توګه بې له اقتدارنه دمحرومیت هغه زمولیدلي احساس ټکسو را وتـسکیناوه . داهـم کیدي شي چي استادرباني ته دافغانستان دواکمني پرځاي دتنظیم واکمني واره داره وي او ددغي واري له مخي ځان له هغو مناسباتواوزاړه عادت نــه نشـي ګـوښه کولي .

دکابل اوسني سلطنـت هـم دټول افغانستان جغرافیه اونفوس په کابل کي ځابوي اوداګني چي که دهرولایت پنځه پنځه تنه هم دقایندګیوپه نوم پدغو لیلیو کي پراته وي هغه دټول افغانستان او مربوطو ولایتونو اوسیمو قایندګي کولي شي .

خواستاد رباني چي غواړي ټول افغانستان اوټول افغانان په کابل کي ځاي او دچاخبره دګیډي دمزوورانو په توګه ئي له ځان سره برته وساتي فکرنه کوم دده واقتدار هغـه طلباني هـوس خروب کړي

خلورم مخ

چلنجونه اومسؤلیتونه

محمد خلیل

دنجیب دګوداګي حکومت لـه ماتي اودمجاهدینودبریالیتوب نـه وروسته چي دافغانستان مسلمان ملت له کومي ناآرامي ، بدامني، بې اعتمادي، بې عدالتي خانه جنګي اوبهرنیو مداخلوسره مخامخ دي، کیداي شي چي لدي نه مخکي دومره بدي اوترخي ورځي ئی نـه وي لیدلي، داڅکه چي افغانانودتل لپاره ددښمنو یرغلګرد قراوسره نـه ستومانه کیدونکي جهـاد خوکړیدي لیکن په داخلي کـچ پچپلو منځونوکي دومره سره لري نه وو تللي چي هرڅه ئي په داو لګیدلي وي، اګرکه واړه واړه جنګونه اوکشمکشونه دااقتداریه سرمنځ ته راغلي لیکن دیرمختصراوکم وخت ئي دیرتیولي دي، په هغه وخت نه دومره پرمانه پرمخ تللي وسلي وي اونه چاپونه ماینونه اونوري مهلکي وسلي پیژندلي. لنډه داچي افغانستان په تازه وختونوکي دداسي چلنجونوسره مخامخ دي چي که په وخت ئي علاج اوغور ونشي نوخداي مکړه دزرګـونو کلونو تاریخي هیواد به مونږ خپل لاس بایللي او ویاړلي افغاني فخریه موله لاسه ورکړي وي بې له شکه چي افغانستان ددېرو لویولویو چیلنجونو سـره مخامخ دي اوهرپادرده اوپاخشیره افغان پدي فکرکي دي چي ګـران هیوادپه له دغوچیلنجونو اودکړاوونوله ګرداب څخه څنګه ووېستلي شي، کوم مسیحابه پیداشي چي افغانستان دامن ، ورورګلوي اوهمدردي په ښکلي بڼ بدل کړي، حقیقت دادي چي نن سبابه هغه شخصیتونه دملت په زړه کي دمحمودغزنوي ، احمدشاه ابدالي او .... په څېر محبوبیت اوالقاب پیداکړي چي دخپل ګران هیواد دپایللي وقار دلاسته راوړلو اودامن دقیام لپاره ، خپل ژوند وقف کړي ، خپل ټول عناد ضداونفساني غوښتني دافغانسـتان د مـسلمان ملت دتولنیزو ګټو پـه وړاندي قربان کړي داسلامي حکومت د قـیام اودشهیدانو دارمانونو دتحقق بیرغ اوچت کړي،(دملت په نظرکي هغـه څوك ملي قهرمان اوهیرودي چي دیرغلګرو په خلاف دجهاد په میدان کي دملت قیادت په لاس کي واخلي خودهیواد دښیګڼي امن اوخوشالي په خاطر له هرډول لوټي ، ځان غوښتني اوذاتي ګټوڅخه په کلکه ډډه وکړي، عفوه ، درګـذري، ایثـار، محبت اودورورولي احساس دده په رګونوکي ځاي نیولي وي حقیقت هم همدادي چي دولس زړونه هغه سیاسي مشران

> دملت په نظرکي هغـه څوك ملي قهرمان اوهیرودي چي دیرغلګرو په خلاف دجهاد په میدان کي دملت قیادت په لاس کي واخلي خودهیواد دښیګڼي امن اوخوشالي په خاطر له هرډول لوټي ، ځان غوښتني اوذاتي ګټوڅخه په کلکه ډډه وکړي، عفوه ، درګـذري، ایثـار، محبت اودورورولي احساس دده په رګونوکي ځاي نیولي وي حقیقت هم همدادي چي دولس زړونه هغه سیاسي مشران تسخیرولي شي چي دملت لپاره ئي په زړه کي دامن ، ورورولي، همدردي، ایثار، ترقي اوخوشالي جذبه په څپو وي

تسخیرولي شي چي دملت لپاره ئي په زړه کي دامن ، ورورولي، همدردي، ایثار، ترقي اوخوشالي جذبه په څپو وي ، په عملي دګرکي هم دده له کردار، عمل، ګفتار،اخلاص اوقرباني څخه وګري متاثره اوپه زړونوکي ئي ځاي نیولي وي، متل دي چي په زور کلي نه کیږي، هرڅوك دزور جبراوتشدد لـه لاري دخپل ولس تسخیرول غواړي هغـه یوناکام، ناپوه اوجاهل سیاسـت مداردي، هغه نه بواځي خپل ځان له تباهي سره مخامخ کوي بلکي دملت استحکام اوترقي ته هم نقصان رسوي «دافغانستان څلورکلنه تجربه زمونږ په وړاندي شکاره اوژوندي ثبوت دي چي له نقصان تباهي، آه ، فریاد، سلګي، لوږه، تنده، فقر، جهالت ، بې امني او ورورووژني نه پرته بل هیڅ څه ئي په ارمغان کي ندي راوړي، دننه په هیواد کي هم ولس له نـــه بیانیدونکي روحي اوجسماني پریشانیوسره اخته دي اوبه بهرني هیوادوکي مهاجر هم زیاتره دغم اوپریشاني په تال کي ژانګي اوله عصبي تکلیفونوسره مخامخ دي، خلك وریاندي ملنډي وهي اودحقارت په نظرورته ګوري، دیوافغان ژوند اووقار ورته هیڅ قدراوقیمت نلري، الله حاضردي چي ماداسي خبري هم آوریدلي دي چي دافغان لپاره ئي دغلونسبت کیږدي اوویلي دي چي افغان هسي بوبې ارزښته اوبې مقصده ولس دي، سرئي هم بایلود، مال هم ، عزت ئي هم بایلود اوآزادي ئي هم ، لګیادي پخپلو منځونوکي یودبل مري ، غوڅوي ، بواځي دوه شیان ددوي دژوند مقصددي یوه ګیډه اوبله ښځه دځناورو په شان ددنیا له ترقي اوتیکنالوجي نه بالکل بې خبره دي، نه ننګ پیژني نه غیرت ، نه قومي وقار پیژني اونه تمدن اواسلام «داطمني اومسخري پس له هغې ورځي نه شروع شوي چي افغاني قیادتونه پخپلوکي لاس اوګریوان شول، دخپل هیواد دبیاوداتولو اوکړیدلي مسلمان ولس دهوسایني اوخوشحالي پرځاي اقتدارته درسیدو لپاره ناروا اوغلطي لاري استعمالي کړي، هغه ګټلي افتخارات، عزت اوهمدردي ئي لـه لاسه ووت چي دجهاد په وخت کي د مسلماتانوپه شمول ټولي دنیا دافغانستان له مجاهد ملت سره درلود، نن افغانستان په داخلي اوخارجي میـدان کـي دسلګـرنو بوګنورنکو او غمجنوونکو چیلنجونه سره مخامخ دي اودهرمسلمان له زړه نه دوینو ځاځکي

خلورم مخ

چې کشور دافغانانو معطر کا
دهربیت مصراع مې زلفې د خوبان کړي

رحمان بابا

دزړه خواله

پښتوادب دغني خان دلیونی فلسفي ،په بیلتون داسې خپېږه پرمخ وخوره ، چې خدای خبرد دې مخ په سورګیدو به هغه سل نور مخونه همداسې خوږیږي اوګه به ددې اولس دیاز له ځالي کوم بل باز داسې والوځي . چې ددې خوږمخ درد پرې هیر شي ؟

وایې چې دانسان ژوند دمرګ امانت وي ، غني هم انسان و او مرګ هغه هم پتمن مرګ دانسان وقار ضامن وي ، دیوانسان په توګه خو دغني مرګ د هغه حق و ، خو څومره چې خبره دغني دفن اوهنر په ارزښت پورې ده ، نو پښتانه متل کوي چې

میږه مړ کړه ، میراثه یې مه وژنه .

دهنرمن مرګ دهغه دمیراثي (هنر) دژوند پیل دی.

پښتني ټولنې ته به دغني دهنرارزښت ترهغه وخته جوت وي ، چې تر څو دهغه دغه هنري تشه ډکه شوې نه وي.

دغني خان د اندود (طرزفکر) په باب به له ډېرو هغو سره ډېرې پوښتني راولاړې وي ، چې د غني دشاعرۍ انځور پواځي دالفاظو پرکښیده وینې .

خوزه دځینو لنهاکو اولندپارو دوادبینې لپاره پره دغني لیون« (کلیات) باندې د " پوځوخبري" دلیکونکي ښاغلي مظفرشاه اپریدي دا نظر پسنده بولم چې وایې :

« غني بابا دخدای سره دمینې یوه نوې لار موندلې ده ، ډېر خلق ددوی په دې نوي لار نه پوهیږي ، زموږ په خیال غني بابا یو صوفي دی . کیدی شي ، چې دوی دې باندې خفه شي .

ولې چې دوی ته غواړي چې د دوی تعریف دې وکړی شي ، خو دایوحقیقت د ی.

...

نورڅه ځکه نه وایم . چې :

دهر چا خپله خپله خوښه .

لمانځنه

؟

غني

په دې زړه کې مې پټ پروت

پرتصویردې دجانان

داسې حسن عجیبه دی

چې یې نه کیږي بیان

دهرچادسترګو پټ دی

خوښکارېږي هرزمان

مظلوم ملت

خوشحال تسل ښیوه وال

داافغان مظلوم ملت دي چې په سرولمبو سوزیږي

داددي خاوري ځلمیان دي،داجل سره لوبیږي

دي هیوادکي خوشي نشته،که دخلکونصیب خواردي

خندانه راځي پرشونډو، غم پرنوي غم بدلیږي

څه په خرته بې محشردي،څه ناخوالي داغبارو

چاته زوروماتم ملګري، څوک په نوي دردږیږي

هم دیل وطن په غیږکي ،داخواران دي ناامیده

آخروپوښتي تري خلکو، دوي په څه دومره دردیږي؟

ددوي هیلي خاوري شوي باپوره تراوسه ندي

چې یې ترمي،ترمي اوښکي،په خبرن ګریوان څڅیږي

دبې وزلوړچي شرندي،دخواراتوزیره ګونه

لږيې حال ته نظروکړي، ولي دوي دومره کړیږي؟

راشي غوښي دي ملت،آخرڅه درڅخه غواړي

دیراغیاروځوروولي، بس دي نوربه ځوځو ریږي

څوك به پورته کړي دازړونه،څوك به وچي دالیمي کړي

امیدلاري ورته څاري، داکاروان کله رسیږي ؟

څوبه زړونه مروروي، څوبه داهیوادویجاړوي

ورکړي یوبل ته لاسونه، ګوري دافرصت تیریږي

داوطن سترګي په لاردي، دزخمونودرمل غواړي

داوردوموددوتېي دي، بس دي دابه هم رغیږي

متي ونغاړه اې ځوانه !، ځان ستومانه په خدمت کړه

که وتسل » تري صدقه شي، پدي ډیارېه تل یادیږي

له پسرلي نه ګیله

بیه شوه چې راغلي وه وعده ماسره ستاګلونه

دتوروشپو تیپوتیارو دړون ساګلونه

اوس که دغزولن ستاپه سروګلوښونویښم

هلته مې ښارکې دیوالونه په سرووښو ویښم

نن وفاپه ځاي جفادځینو ځینوویښم

دوینوخال نن په تندي دماجینوویښم

زموږ محفل کې اوس خاموش دي دخنداګلونه

دتوروشپوتپو تیارو دړون ساګلونه

تاپه تحفه کې راته راوړل دغاړول ګلونه

ستاپه خاطرمې په لمه کې کرل ړول ګلونه

ورنه جدامې کړل دخپل زړګي په ړول ګلونه

کړل مې رقیب ته وریه غاړه لکه پسول ګلونه

ماته ئې غوښتي ستاپه مینه دبیدیاګلونه

دتوروشپو تپو تیارودرون ساګلونه

ماخوبل چې زه به ئې سبل نن دکمځوړکړم

ګشت وګلاریه دخپل ښار خپلوکوځووکړمه

څوکیداري به دخپل ښار دانګوروکړمه

یوه پرده به ئې مقابل کې دپردووکړمه

ستاپه وعده ئې قبول نکړل دحیاګلونه

دتوروشپو تپو تیارودړون ساګلونه

پرېږده رحمانه رقابت دخپل رقیبه سره

شرېه وعده کې برخلاف له تاغریبه سره

نه ئې ددوستي اړیکي شته ستاله قریبه سره

نه به ئې څه کړي نورتوروخط له قلیرجیبه سره

هم ئې په تخنګ کې دغمازشته دجفاګلونه

دتوروشپو تپوتیارودړون ساګلونه

عبدالرحمن نه کیږي ... حمړ

د ادب وږمې

چلوونکی: محمدآصف (صمیم)

دشعر اوشاعرۍ درې شکلونه

۲- بزمي شعر

بزمي اشعار په عمومي توګه سره د ښکلا ، عشق او قلبي وارداتو سرهارېکي لري . په هغوکې دجانان غم هم وي اود دوران اوزمانې د غم څرك هم . په دې ډول اشعارو کې کله کله د دوران اوزمانې غم ذاتي اوشخص غم جوړیږي ، دغه ذاتي غم حتی دومره پکېنې خپریږي چې حتی د دوران اوزمانې دغم څخه دهغه بیلتون دیرسخت وي.

بالګدیونې نومې اروپایي نقاد د بزمي اشعارو د پیژندنې په لړ کې وایي چې : « د بزمي اشعارو هر نظم یومرکزي خیال ، احساس او پیښې خواته اشاري کوي » په هغه کې بالګد یونې نومې بیانیه حکایه وي ، ناصحانه او ډوګیز نظمونه شامل کړل . ولې آزاد نظم یې دبزمي اشعارو په فهرست کې وانه ووست . دا ځکه چې دده په فکریه آزاد نظم کې دغنایي عنصر کمی وي . په بزمي اشعارو کې شکل او مواد دواړه پوره تاثیر کوي .

په بزمي اشعارو کې دمینې اومحبت سندرې هم ویل کیږي اودوطن دوستي راګ هم غږول کیږي، دلته انسان دخوشحالۍ سره هم غاړه غړۍ کیږي اود غم ، دوك او درد څخه هم متاثر کیږي، اودزړه حرکت وورسره شامل کوي . دلته دجذباتو بشپړه ځرګندونه کیږي . دا ځکه چې داخلي احساسات دبزمي اشعارو سرمایه ده .

په دې ډول اشعارو کې موږ ته خپل درد ، غم اوخوشحالي په نظرراځي . شاعر دخپل ژوند تجربې په ډېره ښکلې توګه سره دخپل شخصیت جز ګرزوي ، اود بزمي شاعرۍ په ذریعه دهغو بشپړه ځرګندونه کوي . دهغه په جورښت کې دشاعر د جذباتو اواحساساتو ډیر زیات دخالت وي .بزمي شاعري بوازې دخوشحالي دنغمو دپاره اختصاص کول سخته غلطي ده . د همدې کبله باید د غم اودرد دوارداتو اظهار هم باید د بزمیه په ذریعه وشي . دبزمي شاعري بوخصوصیت دادی چې هغه دهر هیواد اوهرې ژبې سره په خپل ځان کې بدلون موندلی اودغه بدلون د ژبې اوهیواد سره په ځنګ کې دقومونو دمزاج اوتولنیز عمل اوکردار سره سم پیدا کیږي . په دې توګه سره وینو چې دهرهیواد دبزمي شاعرۍ پرمختګ خپل اوځانګړی وي . دغه پرمختګ دومره ځانګړی ځانګړي وي چې په ځرګنده توګه دهغوی ترمنځ کوم اړیکي نه لیدل کیږي دا ځکه چې د هغوی لري په حمد ، ثنا ، نعت ، قومي ، ملي ترانې ، سندرې ،غزلې اوداسې نورو غیرونو باندې جاري وي . بزمي شاعري اَن لا هغه وخت پیل شوې وه چې انسانانو لا لیکل اولوستل نه وو پیل کړي.

۳- تمثیلي شاعري :

